حبيب الله غمخور

۲۷ مه ۲۰۰۸ م کال داگست

# پرون بيهسود اونن تخار
## دښاغلي کرزی دپاملرنې ور

دځوان شاعر عبدالودودهجران پدې شعر به ئې پيل کړم چي وايي :

دزمريو خاوره

ستا په غېږ کي چي اوسېږي	د افغان په نوم يادېږي
که پښتون دی که تاجك دی	که بلوڅ عرب نومېږي
قزلباش دي که ازبك دي	بې توپيره څرګندېږي

زه نه غواړم پدې ليکنې کښي لوستونکي په ډيرو تاريخونو،سنو او ارقاموباندي ګنګس کړم ځکه پدي باولرم هر دپاک احساس لرونکی افغان ددي نژ دې اتو کلونوناورين دومره ګنګس کړې چي نورئې دتاريخونو اوسنو دلوستلونه زړه تور شوئ دی .
تر هر څه وړاندي غواړم په تکرار يوې خبرې ته اشاره وکړم چي دهيواد ټول ميشت قومونه زموږ ورونه دي دتاريخ په اوږدوکي يودبل په غم او ښاديو کي سره شريک يو،داڅه چي دويني شراکت لرو ديوه قوم اوبل قوم دکورنيو تر منځ خپښې او دوستې شوئ ،ځکه خو ئي دغه افغان دښمنه نشي سره بېلولاي ،زه ټولوته يوشان درناوی لرم .
داتر لمر روښانه خبره ده چي دافغانستان په جوړېدو،ساتلو اوخپلواکۍ تر لاسه کولوکښي ددې سيمې لوي قوم لويه ونډه،دنده او مسوليت درلود او وړو قومونو وړ ې دندي ،ونډي اومسوليتونه لرلي دي . داځکه چي دعلمي اصل له مخې برخې پر سرو ويشل کيږي نه پر نومونواوډلو. ددې هيوادتاريخ ته که نظر واچوونو په ټولولويو او وړو جګړوکي دلوي قوم ياهغه قوم چي شمير ئې ډير دی،پدې سيمه کي دشتون پر تاريخي سابقه به ئي بحث نه کوم ځکه هر دسالم عقل خاوند پري پوهيږي چي تور تور اوسپين سين دي زياته ونډه اخيستي اوزياته قرباني ئي ورکړې . هغه ځودګوتو په شمار افغان اويا افغانستان دښمنه چي کله دخراسان اوکله دپښتونستان ډهل وهې پر هغو ځکه حساب نه دی چي له يوې خوا دګوتي په شماردي اودبلې خواکه سړی دهريوه بيوګرافي راواخلي نوله ډيرپخوا دپردو په چوپړکي وه ،تنها کله کله ئې خپل باداران بدل کړي ، هر چا چي دافغانستان سره دښمنۍ ته لاس اچولی دوي ورته دنوکر غوندي حاضر شوی دی .هغه ټول پيژني چي دافغانستان له نامه نيولې ،ژبو،قومی اړيکواوټولوشتو ټولنيزو مناسباتوسره مخالف دي دافغانستان ټوټه کېدوته ئې دشمالي اوغربی بادارانوپه هدايت ملاتړلې ده .
تاريخ شاهد دئ کله چي سلطان محمودپر هندوستان ونيولوته ملاوتړل او دهندوستان په لوردسفر هوډ ئي وکړ نودهغه دلښکرو لويه برخه همدا لوي قوم واوبرياوي ئي دهمدې لوي قوم دلويي ونډی اوقربانيو برکت و. ددې پاکي خاوري پر خلاف چي هر زبرځوک که مغل وه که چنګيز ،درې ځله انګريزان اويا روسان وه همدي لوي قوم دلوي مسوليت پر بنياد ټټر ورته سپر کړی و،ترهرچايې زياتي قربانۍ ورکړې،اوهمدانن چي نن دی دديمو کراسی اوګلوباليزم تر نامه لاندي بياهم دهمدې لوي قوم پرکور اور بل اودودګی ئې تر آسمان نه پورته شول .
دا۳۵ کاله کيږي چي يوځل دنړيوال انتر ناسيونايزم ،بياداسلامي پنډمينټاليزم ،يابې سرحده اسلامی نړۍ دجوړېدو اودادی اوس دديموکراسۍ اوګلوباليزم دپياده کېدواوافغانستان دبهرنيو ترهګروله منګولونه دخلاصون تر نامه لاندي دسره اور په لمبوکي وريت شول. ښکلی کنړ ،نورستان ،لغمان ،پکتيا، پکتيکا، خوست ،شين کوړم لوګر اوغزنی ،زابل اوکندهار ،دباغونوډک روزګان ، اوناوې غوندي ښکلی هلمند چي کوچنۍ امريکاورته ويل کېده ،فراه ،هرات ،بادغيس اوغور پداسي کنډوالو بدل شوی چي دلومړۍ اودوهمې نړيوالي جګړې کنډوالي ئې په ببلګه کي هم نشي راتلا ي. داځلورکاله کيږي پدې سيمه کي له يوې خوا دپاکستان اوايران داستخباراتي شبکوپه مرسته روزل شووکسانواودولت دنورو مخالفينولخوا بې دفاع افغانان ددولت اوبهرنيانوسره دنه مخالفت په ګناه اودبلې خواتردې شعار لاندي چي هرپښتون طالب دی دبهرنيو دړندوګوليو اوهوايي غونډارو قربانيان دي ،داس ورځ نشته چې په دغو پورته يادشوو ولايتونوکښي دې دمړو شمير لسو تر شلو تنو ونه رسيږي . په ځانګړې توګه پدې سږ کال کي له يوې خوا په افغانستان وامريکا کښي دولسمشری لپاره ټاکني رانږدې کيږې اودبلې خوادامريکا،اروپايي ټولنې


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

اوروسانوتر منځ دسیمي د شتمنیوپر سر اختلافات له دیگ نه په کبکیر کي راوزي ،چي افغانستان اودالوي قوم ئي قرباني دي . پدې ورستیو دوو،درو میاشتوکي په یوه اوبل نامه اوکله هم پدې نامه چي په افغانستان کي دولسمشرى دټاکنو لپاره امنيتي شرايط برابر شي بې شمير پوځى داسي عمليات تر سره كيږي چي دګټي پر ځاي ئي تاوان زيات دي او ولس ئي نورهم ددولت اوبهرنيانوپر خلا راوپاراوه .

سره دد ې چي دانا ارامه وضعه دکورنيو اوبهرنيو حاکمانوپه ګټه د خو زمونږ لپاره ځکه دردونکې ده چي زمونږ ولس پکښي قرباني کيږي اوهيوادمو په کنوالو بدليږي ،داځودجنګ سالارو،هېروئينودپټواوشكاره سوداګرو، داينجوګانو څخه غلاشوو پيسو،دملي شتمنيودغصب اورشوتونوپه پيسو خپل سرى جوړ شوى بلډينګونه زمونږ دملت هيڅ درد نشي دواکولاي اونه هم دا دملت درفاع بېلګه بلل كېداي شي . زه ددولت داوروستى منډې ترړې چي دشينډنډدولسوالۍ په مربوطاتوکښي دامريکايي قواولخواهوايي عمليات اوتر ۹۰ زياتو ملکي وګړودقربانۍ سره دومره بې ثاري خواخوږى،يوه انتخاباتي ډرامه اودخلکو غولونه بولنه بولم ،داځکه چي تاسو وګورئ : لومړئ خوله لويه سره بهرنيان خپل زيات شمير پوځى عمليات ددولتي چارواکو او اړونده ارګانوسره نه کوردينه کوي اونه هغوي په خبروي ،اوبهرنيان هم ددي کار لپار يوشمير دلايل لري چي دوي ته دمنلو وړ دي خومونږ ته چي داپروسه له لومړۍ ورځې تعقيبوو بياديوشمير نورودلايلوله مخې دمنلې وړندي .

دوهم : دالومړئ ځل نه دی چي په افغانستان کي د بهرنيانوپه پوځى عملياتو کي بې ګناه کسان نه وژل کيږي ، يوازي دجون دمياشتي راپدي خواپه خوست، پکتيا،پکتيکا،لوګر، غزنى زابل، کندهار، بادغيس اوهلمنداوروزګان کې په سووبې ګناه انسانان له منځ تللې، دهلمند دولايت دموسى قلعه ،سنګين، زميناور اونوزادولسواليو کي ۹۰ په سلوکي کورونه دهمدې بهرنيويوځى هوايي اوځمکنى عملياتوپه پالوکښي په کنډوالوهغه وخت بدل شوه چي هلته انسانان اوسېدل داچاکنډواله کړ ؟ اوچاوژل؟؟؟

دکابل په ښارکي دارګ وبغل ته څوک مهاجر دى /او ولي مهاجردى؟ ايابناغلى کرزى صاحب تاسو ددغو اونوروپه زرهاو کډوالوچي دمحلي قوماندانانو اوهمدغو ړندوهوايي عملياتو څخه دسرپناه کېدوپه خاطر دکندهار په سوځوونکو دښتواونوروسيموکي دنيوزلۍ شپې او ورځى تيروي پوښتنه کړېده ؟ متاسفانه هيڅوخت موداکارنه دئ کړى .

په لغمان کي دفرانسويانودلسو تنوتر وژل کېدو يوه ورځ وړاندي ۱۸ نفره مړه او ۴۲ زخميان شول داچي دهغوي له جملې نه به څوژوندي پاته وي يو خداي پرې خبردى ،په هسکه مېنه کي پر واده بمونه واورېدل په ډيره بې شرمۍ سره دولتي جګپوړو چارواکودبهرنيانودخوښۍ لپاره وويل (( ستاسو بچودطالبانواودولت دمخا لفينوپر ضد عمليات کول ،هغوي ماته وخوړل دتېښتي په حال کي دهمدې واده ه له ورا سره يوځاي شوى وه ،نوزمونږ دوستانووربانديهوايي ډزي وکړې اوداحادثه پېښه شول)) يعنې همدي افغاني چارواکودوي ته برأت ورکړ . داچي څومره دبېګناه خلکودژولوپر سر راپورته شوي غوسه ئي په درغجنوتبليغاتوچي ګويا هيئت وټاکل شو اوڅېړنه به وکړي خلک غولولې يو محاسب ئي نشي شمېرلاي . په کنړ کي له ډيره شرمه اوددي لپاره چي ځرګنده کړي له افغان ولس سره څومره خواخوږي لرخپله ښاغلى کرزي ولاړ .خوپر همدي تبليغاتي تګ باندي هرڅه پاي ته ورسېدل ،تر اوسه ملامت پيدا نشواونه هم چاپدې هکله جزا وليدل ، البته پدې پوهېږم چي بهرنيانوته په افغانستان کي جزاورکول ددې حاکمت اوقانون تر صلاحيت وړاندي دي ،مګر په بهرکي دهمدغو ملکونو چارواکو هم خپلو افسرانوته چي بې ګناه انسانان وژنې کومه جزا نه ورکوي . بنأ دپلاوي ټاکنه که دولس غولول نه دي نوڅه د ي ؟ بهرنيو ځواکونو د فعاليتونو د قانوني کېدا او د هغوى پر حضور د بيا کتنې غوښتنه کړې ده.

داځل چي دهرې ورځې په تېرېدوسره ټاکنوته وخت رانږدي کيږي دادرامه پيل شوه چي حکومت بايد ژر تر ژره په افغانستان کي دبهرنيو ځواکونوشتون اوفعاليت ته قانوني بڼه ورکړى اوددوي کړنې دافغانستان دقانون په چوکاټ کي راولې ،بهرنيان بايد پدې وفهمول شي چي نورخپل سرى عمليات ونکړي او خپل ټول فعاليتونه له دي دافغان امنيتي چارواکو سره همغږي کوي . داچې دغه طرحه او مصوبه به پلې شي اوکه نه، بېله خبره ده، خو يو کال وړاندې هم ورته يوه طرح تصويب شوې وه، چې نه دولت عملي کړاى شوه او نه يې بهرنيو ملاتړو پرې غوږ وګراوه .

دشنډنډ پر مسله چي خپله ددفاع دوازرت وياند جنرال ظاهر عظيمى وايي : ((حمله هوايى بالاى ولسوالى شيندند ولايت هرات هيچګونه هم آهنګى با نيروهاى افغان صورت نګرفته است . هغه زياتوي چي آنها تنها درمورد عمليات زمينى توافق نموده بودند و در اين برنامه از اجراى عمليات هوايى چيزى ګفته نشده بود. وى مى ګويد هيچ نيازى به بمباران اين روستا وجود نداشت.مګر هغوي بيا وايي داحمله ددوي يعني افغاني اړونده چارواکوپه غوښتنه شوې وه.

حکومت دوه افسران چي دواړه ئي ځانونه بېګناه بولي له کار ګوښه کړه ،جالبه خولاداد چي دلومړى ځل لپاره بېل کومي اړتيا نه دپارلماني چارو دوزارت کي دمامورمحمد آصف ننګ لخوا ددغو افسرانودګوښه کېدو فرمان ن افغان جرمن ويب پاڼي ته هم ليږلۍ اوهغوي خپورکړئ دي . دغه ډول کارونه دوارخطايي اوتبليغاتو معنا لري .


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همكارى دعوت مى نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

مورږ پدې باوريو هغه ځواک ته چي دافغانستان ټول سياسي ،اقتصادي ،دولتي اوپوځي صلاحيت ئي دعينى دلايلو له مخي پلاس کښي دی،دغه کسان چي بهرنيان ورته معاش ورکوي اوياددوي لخوادغومقامونوته رسېدلي يابه يوځل بياورسېږي په کومو منطقونږيوالي ټولني او امريکايانو،يا انگلسانو ته لاربښودنه کولاي شي . دايولاسپوڅی اودبهرنيو هيواد دعامو وگړودزيار اوزحمت ماليانوپه پيسوجوړه سوې اداره ده چي همدا نن بهرنيان خپلي مرستی پر ودروي سبابه يوهم په افغانستان کي ونه وينی،اونه به دادولت وجود ولري . له دې امله ښه خبره داده چي دافغان ولس پر ژوند او وينوتويولوباندي دتجارت اوبې ځايه وعدو اوشعارونو په عوض بهرنيان دنورولارو په دي وپوهول شي چي په خپلو عملياتو کي دملکي وگړو ژوند ته جدي پاملرنه وکړي اودبلې خوا دولتي اداره دفساداوخلکوله زورونکونه فارغه شي تر ځودخلکو اودولت تر منځ راپيداشوئ واټن راکم شي . کنه نوکه رښتيا سره ووايو پر يوه دشينډنډ پر خپل سرى عملياتو دهياهوي دجوړېدولپاره دووافسرو سره يوځاي بايد، همد جنرال عظيمي ،ددفاع اوکورنيو چارو وزير اوکه لاڅوک انصاف ته غاړه کښېږدي نو ټوله کابينه اومشرئي بايد ډير پخوالا ا ستعفا ورکړې واي .ځکه نور دملک په خرابی اوافغان وژنه دچاوس نه رسېږي ،دومره خراب او ويجاړ شو .دولتي اداره ديوسياسي اودولتي مافيايي سازمان په توگه ،چاروا کي ئي دخلکوويني څښښي اوبهرته شتمنى لېږي .
رابشودابلې غميزې ته چي دبم اوريودغم اوښکي لاندي پاکي شوی چي دننه په کورکښي افغان دښمنه ددې رواني دولتي اوبهرنی غميزي تر سيوري لاندي دالوي قوم دخپل پلارنی ټاټوبې نه محروموي ،اوهغوي چي خپلو مېنوته راځی ديوشمير کسانو اوډلو لخواچي ورته خراسان پلوه اوبيلتون غوښتونکي ويلاي ددې تر څنگ چي په خپلو ليکنو او ويناووکي دافغانستان تاريخ مسخه کوي ،غلط اودروغجن تبليغات کوي ،ملي مشرانوته سپکې سپوري وايي ،داديران دفرهنگی يرغل لارويان اوددي ناوړې موخي دپلي کېدونوکرانو يو ځل دوردگود ولايت په مربوطاتوکي دکوچيانو هغه مېني چي دځوکلنی لعنتی جگړې په دوام کښي کوچيان په دوبې نشوه کولاي هلته ولاړ سي ،دسيمو دځايي خلکو لخواددوي څرځايونه په کروندو بدل کړل او محصو لات ئي خپله خوری ،نه غواړي کوچيانو ته دغه څرځايونه دوباره وسپاري ،ځکه ئي دکوچيانوپر خلاف له کابل نه لښکري جوړي اودکوچيانو پخوانيو مېنوته دورتگ په مقابل کښي ئي پر هغوي وسله واله حمله وکړه چي ددواړو خواتر منځ مرگ ژوبله وشوه . پدي بايد هر پښتون پوه وي چي داکار دد لپاره وشوچي دافغانستان شمالي اوغربي گانډيان غواړي دافغانستان مرکزي اوشمالي سيمي له پښتنونه خلاصي کړې ځکه نوپدي ورستيو کي ددوي نوکران داوايي چي دپخوانيورژيمونولخوا ورکړه شوی اسناداوقبالې نه مني . ددي کارپه سرته رسولو سره خراسان پلوه کسانوته به دازمينه برابره شي چي دفدراليزم تيوري دځان په گټه پرموږ ومني اودبهرنيومخالفينولپاره دهغوي د نفوذ دپراختيا لاره خلاصه کړي .
تاسو ټول خبر ياست ،په ډير ويب پاڼو کي به لوستي اوله راديوگانو اوتلويزيونوبه مو اوريدلي وي چي دبيهسودو مسله دعامواوسپېڅلو هزاره ورنوسره په مشوره نده راپورته شوې ،يوازي محقيق ،خليلي ،لطيف پدرام ،دشمالي ټلوالي نام نهاده جبهې څونورودگوتوپه حساب کسانودخپلو سياسي اوتنظيمی موخولپاره دتير کال په ژمی کښي ددي لپاره چي په پسرلي کوچيان دوردگو ولايت دبيهسودو ولسوالي اونورو سيمو ته چي ددوي تاريخي څرځايونه او دوبنۍ مېني دي راځي څو ځله دکابل په ښارکي خپل مينځی پټي غونډي وکړې ،پايله داشوه چي پر کوچيانو باندي بايد وسله واله حمله وشي ،سمدلاسه بايد محقيق په مطبوعاتي کې چيغه پورته کړي چي ما اشتباه وکړه چي تاسوته مي وويل خپلې وسلې تسليم کړي اودنه خوړلو اعتصاب پيل کړي،اوجناب خليلي بايد ځان خوابدی واچوی اوقلمی نوکران ئي ډير ژردامسله مطبوعاتو ته راوباسي اولطيف پدرام دافغانستان ملي او وياړلو څېروته بدويل پيل کړی تر څو په ټول افغانستان کي سياسي وضعه ديوي نامعلومې نا انډولی سره مخامخ کړي ،بيانو دوي اوباداران ئي پدې خړو شوو اوبوکي ماهيان ونيسي . دهمدا سي جوړې شوې سناريوله مخي ټو کارونه سرته ورسېدل ،پايله داشوه چي دښاغلي کرزی دوارخطايي له امله ،چي خپله راتلونکې چوکی له لاس ورنکړی محقيق اوخليلي خوشحاله کړل ، يوازي لطيف پدرام پکښي تر ټولو زيات وشرمېد اودټول افغان ولس په منځ کي ديوه رټلي کس په توگه معرفي شو،که څه هم تر دښی اوچپ اړخ ځيني کسان تر اوسه لاهم په ډيره بې شرمی کوښښ کوي دده خبري معقولي توجه کړي خو اوس کار تر کار تيرشوی اومنفوره څېره بيادخلکو په منځ کي ځاي نشي موندلاي . دبيهسودودمسلې پر سر راپورته شوې لانجه لا خلاصه شوې نده چي دادی په تخار کي هغه کورنې چي پر افغانستان داشوروی ديرغل په وخت کي له افغانستان څخه کډه کولو اوفرار ته اړيسته شوي وې اوس دوباره خپل ټاټونی ته راستانه شول ، خودلته يوشمير محلي قوماندانان لکه محمد سليم،حاجي جمشيد، عبدالصمد او قاضي محمدکبير اونورو کسانو چي داڅوکاله ئي ددوي پر جايدادو اوځمکو خېټه اچولې وه هغوي ته خپل جايداد نه پرېږدي اوپه ټول قوت دروغجن اوناروا تبلغات کوي چي گويا دالقاعدې ياجيش محمدي سره تړاو لري اويادا طالبان دي . دخپلو کسانوپه وسېله ئي لاريون ته سازمان ورکړ تر څوخپلي ناوړه څېرې اوکړنې دلاريون کوونکوترشا پټ کړی ،اوداي څرگنده کړي چي گويا دوي پر حق دي .مگردابېچاره گان پدې نه پوهېږي چي هرلاريون دواقيعتو نواوروا حق ددفاع معنا نلري ،


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

داټولوته څرګنده ده چي متاسفانه تراوسه لا زموږ په هیوادکي هرمحلي قوما ندان اوجنګسالاردلاریودجوړیدوتوان لري څکه خودوي نه غواړي سوله ټینګه،عدالت اوقانونیت تامین شي .
ویل کیږي دوي ته هم دهمدغي پروسې دمشرانو لخوا چي غواړي شمالي سیمې دپښتنو له شتون څخه پاکي کړي ویل شوی چي دپخوانیو شاهانو او حکومتي چارواکوفرمانونه اودولتي اسناد وله منلوڅخه ډډه وکړي اوټول هغهٔ دپښتنوجایداداوځمکي چي دوي لاندي کړی دوباره ورنکړی ، څکه دوي وایي چي موږدپخوانیو چاهانوفرمانون نه منو،هغه غیر عادلانه وه اوزموږ ځمکي ئي تاسوته زموږ دنیکونودارادې خلاف درکړي دي .
داسي ویل کیږي ،عیني شاهدانو ټول افغان ویب پاڼي استازي ته وویل چي قاضي کبیردپښتنو استازوته دخبروپرمهال څرګنده کړه چي هغوي دنادرشاه اوظاهرشاه دحکومت له لوري شوی دشمال دځمکو ویش نه مني اوهرڅوک چي دناقل په بڼه دلته راغلي موږ یی باسو. ځمکه اوجایدادیی دځایي اوزبکانو حق دی اوپښتانه بایدچي خپلو سیموته لاړشي .اوکه دقاضي کبیر څخه پوښتنه وشی ته له کومه راغلئ یې نه پوهېم چي ځواب به ئي څه وي ؟ اوپه کوم حق اوصلاحیت یوه افغان ته دهغه داوسېدوځاي پداس حال کي ورپه ګوته کوي چي هغه دلته تر نیمي پېړئ زیات عمر تیر کړئ دایې جایداداودبلې خودېر ګمان کیږي چي تر کبیر خان به ددې هیواد اصلي اوسېدونکی وي .
لومړی به راشودې خبرې ته چي دمنل شووقوانینواوشرعي احکاموله مخې په هر نامه چي وه پاچاهانو داصلاحیت درلود یوچا،یوې کونۍ اویایوډلي ته دولتی ځمکه دفرمان په صادرولوسره ووېشی ،چي دغو خلکوته هم دغه ۲۵۰۰ جریبه ځمکه دتخار په شاوخوا سیمو په ځانګړتوګه دخواجه بهاوالدین په ولسوالۍ کي دوخت دپاچالخوادځانګړو قانوني اوشرعی فرمانو له مخې وېشل شوې ده ،اوله سلونه زیات کلونه داددوي ملکیت اوذولیت دی ،دوي مالیه ورکړې په همدغه ځاي داوسېدوپربنیادئي دافغانستان په ټولو سیاسي او ددولتي برخوکي فعاله برخه اخیستې،عسکرئ ته ئي زلمي لېږلي اوددولت قوانین ئي منلي دي . دغه ددولتي ځمکو دویش پروسه له ډېر پخوانه تر ۱۳۵۷کال پوري روانه وه چي په لویه کچه دولتي ځمکه په کندوزاوبیا په هلمندکي دافغانستان له ټولو ولایتوڅخه بې ځمکو خلکوته وېشل شوې ده .نن باید دهلمند یا کندوز اصلي اوسېدونکي راولاړسي اوعلان وکړي چي ټول ناقلین باید دهلمند یاکندوز ځمکي پرېږدي ،دازموږ پلارنۍ خاوره اوټاټوبۍ دی په موږپوري اړه لر ي . نه داسي نده ،دوي اوبل هیڅوک داحق نلري.یوټکۍ باید په ډاګه شي چي په شمالي سیمو کښي هغه ځمکي چي پښتنوته ورکړه شوې دهغوي ابادي دځایي خلکوپه وس کي نه وې اودولتي ملکیت وځکه ئې ویل که مرګ غواړې کندوزته ولاړ سه ،خوکله چي پښتنوپه خپل زیار اوزحمت داځمکي ابادي کړې ،اوهغه وژونکی غوماشي ورکې شوې کندوزشین کوړم شواوس بیا وایي که ژوند غواړې کندوزته ولاړ سه . دولت په هیڅ وخت کي په ټول شمال کي دچانه ځمکه نده اخیستې چي هغه دي بیا پښتنوته وېشل شوې وي .
اوس چي دتخارولایت دخواجه بهاالدین ولسوالۍ دلالاګذر اوشېرتوغي دسیمو اوسیدونکي پښتانه ۸۲ کورنۍ چي دغږوشمېره یی نژدې دری سوه تنه ته رسېږي ،تراوسه دبلوچستان په ژوب کي اوسیدل دملګرو ملتونو دکډوالو دبیا راستنېدودپروګرام ترچترلاندي هیوادته راستانه شوی . خومخکي لدې چي هغوي خپل پلارني کلي ته ورسیږي دتخار دپخواني والي قاضي کبیر او اوسني والي لطیف ابراهیمي وسله والوورباندي بریدکړی .هغوي یي نیولي اوټول یی له ځانه سره برمته یوړي داددولتي امکاناتونه دافغان ولس پر خلاف غیر قانوني استفاده ګڼل کیږي . والي اویابل څوک داحق نلري پ خپل سر رستانې شوی کورنۍ تر دې نامه لاندي لکه چي جوره بېګ وایي موږ داکار څکه وکړ چي دغه خلک هلته بندساتل شوي چي په سیمه کي دیوه توکمیزفسادوېره ترې کېدله . داچي جوره بیګ اویاقاضي کبیر غوندي خلک پر ټوله ولسوالۍ حاکم وي دیوتوکمیز فساد ویره ترې ولي نه کیږي ؟ دوي کوم امتیاز لري چي پدې سېمه کښي یوازي باید ددوي حاکمیت چالان اوهمدا یوتوکم وه اوسي ؟
دراستانه شویو کډوالو یو تن مشرارباب ظاهر خان انډړ واي چه موږ د ځمکو ٦۰کلني قبالې لرو خو دولت او پولیس د برید کونکو مرسته کوي .
ښاغلي یوسفزی په خپله لیکنه کښي لیکلې چي ۷۰۰پښتانه ښځي،ماشومان,د تخار ولایت د خواجه بهالدین د اولسولي په زندان کي دپنځو ورځو راهسي د ازبک جنګسالار او ولس مشر حامد کرزي نژدي دوست قاضي کبیر لخوا محاصره او د ژوند د خطر سره مخامخ دي . د محاصره شویو له ډلي نه یو تن عبدالله واي چه د بلوچستان په ژوب کي ئې د مهاجرت ژوند کولواو تیره اوونۍ خپل وطن ته راستنه شول چه لومړي دولسوالو کسانو راباندي برید وکړو اوبیا ئي ټولي کورني د ولسوالي په زندان کي بندیان کړي یو.
ښاغلي کرزی ځیني وختونه بې ځایه اوبې دلیله دولتي مامورین تبدیلوي ،ښه به داواي چي ډېر ژر ئي دغه لطیف ابراهیمي چي دولایت مقام ئي په اختیارکي دی او هرومرومرو به دشمالي ټلوالي په سپارښتنه والي شوئ هم وي له بهرنه وروغواړي اوپوښتنه ځیني وکړي چي خیریت دي لالیه ،څه کوې اوپرکومه روان یې ؟؟؟



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دابناغلي قوماندانان چي دا دېرش کاله ئې ددغو خلکو پر جايدادو خېټه اچولې وه نه يوازي داچي ځمکي ئې بايد ورپرېږدي بلکه دحاصيلاتواوګټې هغه برخه چي دځمکي دخاوند حق کېږ ي هم بايددوي ته ورکړی . دوي هيڅ حق نه درلود دهغوي ځمکي ونيسي اوبياچي دا کارئي کړی اوس بايد بيله کوم دليل اوبرهان څخه ددوي ځمکې اوجايدادونه وروسپارل شي .

داګست پر ۲۶ مه ددغوراستانه شوو کډوالويومشر استازي ښاغلي مولوي عبدالحکيم اخندزاده دازادي راډيو سره په مرکه کښي وويل : ددوي ټول جايداد اودارايي دکورنيو جګړوپه جريان کي له منځه تللي دي ،موږ له هيوادنه فرار ته اړشولو،خو اوس دادی موږ دوباره خپل وطن ته راستانه شوی يودادرې ورځی کيږي چي کډي موپه لاريو موټرونوکي پرتې دي اوڅوک ځاي نه راکوي .هغه داهم وويل چي موږ دخپلو ځمکوقبالي ،فرمانونه اودماليې اسناد پلاس لرو. يودولتي پلاوي چي ددې مسلې دڅېړلو لپاره سيمې ته تللي ودازادي راديوسره په مرکه کښي په ډاګه وويل چه دهمدغو راستانه شووکډوالودملکيت اسناد په دولتي دفترونوکي ثبت دي .

مولوي صاحب په خپلو خبروکي وويل ،کله چي موږ ددې ځاي نه کډې ته مجبورشودغوکسانو دخپلو امکاناتو نه په استفادي سره داځمکي ددولت نه پدې نامه چي شاړي پرتې دي اومالکان ئي وتښتېدل ځانوته جعلي اسناد جوړکړه ،چي دا اسناد جعلي دي ،اوداڅوکاله دوي زموږ دجايدادونه غير قانوني استفاده کوي . جالبه خبره لاداچي دوي وايي موږ هغه عريضه پلاس لرو چي دښاغلي کرزی نه مو امر اخيستی چي موږ ته خپل جايداد بايد تسليم شي ،خو لکه په ټول افغا نستان اوحتا په ارګ کښي ددې بېچاره امر څوک نه منې اونه هم له هغه اوقانون څخه څوک ډارېږي دلته په تخارکي هم چا دامر دلوستلو وخت پيدانکړ. دپښتنو سره په شمالي اومرکزي سيمو کښي داډول کړنې ساده اوتصادفي ندې دا ديوې معينې ستراتيژۍ اومعينو مخوته درسېدوپر بنياد دمعينوکړيولخوادبهرنی حمايې تر سيوري لاندې تر سره کيږي . تاسو خپله قضاوت وکړئ ،خلکو ښاغلي کرزی ته عريضه کړې اوهغه هم امر ورکړی ،دلته به انشا الله بهرنيان ملامت نه وي اونه به دهغو دخپل سرۍ مسله مطرح وي ،ښاغل کرزی مسوليت لري دخپل امر دنه پلي کېدوپوښتنه وکړي .اوکه ئې نشي کولاي نودا حالت تر هغه بدتر دی چي ده ويل که مي امنيت رانه وست په هغه لحظه به استعفا ورکړم . د امنيت خوپه آسمانوکي درک نشته ،خو ښاغلي کرزی صاحب ستاسو لخوا مقر شوی دادۍ ستاسو امر نه مني !!! اوس به څه کوو؟؟؟

فکر کوم دښاغلي کرزی لپاره دعار خبره وي چي امر ئي يو والي اويادولايت يوچارواکي ته دمنلو وړ ندی .

دولت ته دبن دکنفرانس دپرېکړو اواساسي قانون له مخي دورسپارل شوودندو څخه يوه اوډيره مهمه دنده همداوه چي له بهرنه افغان کډواک خپلو پخوانيو ځايوته راستانه اوهغوي ته دمحلي واکدارانو لخواغصب شوی جايدانونه ژر تر ژره وروسپاری ،دولت و لې خپله دغه دنده سرته نه رسوي ؟ اوددې پروسي څخه نظارت دچاوظيفه ده؟ که په بهرکي دکډوا لوشميره په نظر کي ونيول شي له بده مرغه همدا اوس په بهرکي دسرګردانه افغانانوپه جمله کي دپښتنو شمير زيات دی اوله دغوکسانوڅخه دلته په افغانستان کي جايدادونو لرډي که ډير پاته شوی دي که يو وخت دوي ته دراستنېدو امکان برابر شي دهغوي سربه هم همدا ورته برخوردکيږي ؟؟؟

که په شمال اويامرکزي افغانستان کي داډول برخورد دوام وومومي ايادغه دولتی اوتنظيمی ښاغلي ئي په پايلو پوهېږي ؟؟؟

ايادائي هيره ده چي پښنوته کوراوځمکه دناموس حيثيت لري ،اوپښتنه مورخپل ماشوم ته دشيدو رودلوپه وخت کې وايي :(( سرتر وطن جار،وطن تر ناموس )) .

ايادابه ديوې بلې داسي غميزي پيل نه وي چي بيابه ئي مړي څوک راټولولاي نشي؟

ولي ؟

دڅه لپاره له دغوکډوالوسره دومره نارواکيږي ؟

ولي پښتانه دومره زورول کيږي ؟

دپښتنو سره دغير انساني کړنو اوزوروني دلته بهرته تر ما اوبل هر بادرده افغان پوري رسېدلي دي .

ايابيا پښتانه مجبوروی چي دطالب يابل نامه راپورته اوټول له يوسره لکه استادرباني تر خپلوبهرنيو دوستانوپوري مووځغلوي؟ زه فکرکوم دپښتنو په ملک کښي دپښتنو سره ډيري نارواوي کيږي . ز ه اوس پر دولتي حق دعوه نلرم ، ځکه ځاي ئي نه دی . داچي څوک وايي جمهورريس پښتون دي نور څه غواړۍ ،کاشکي نه واي ، بيا موږ پوهېدوچي څه وکړو!

دښاغلي کرزی نه مو هيله داد چي دخپل حاکميت په ورستيو شپو او ورځو کي داملک دخپلو ګټواودمقام ساتلو، دشمالي ټلوالي اوياهم دبهرنيانودخوشحالی په خاطر دغيرملي مصليحتونوقرباني نکړي ،زموږ ولس دومره زورېږي چي چنګيزدومره نه وو زورولی اونه هم په تاريخ مثال لري . اوکه يوځل راپورته شو او وسلې ته ئې لاس


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

کړ بیانو ټول پدې خبر یاست چي پایله به څه وي؟ داهمداقهرمان ملت وواودئ چي هر زبرځواک او د زبرځواکوګوډاګیان دي ګونډه کوي چي خوله ئي پر ځمکه ورباندي مږي .
داټولوته څرګنده اوروښانه ده کله چي په ۲۰۰۱ کال دسپتمبر تر ۱۱ وروسته امریکادطالبانودحاکمیت دړنګېدو پریکړه وکړه اوپر افغانستان پوځی ځمکنئ اوهوایي عملیات پیل شول په زرهاو پښتانه دطالبانوپه نوم له ژوند څخه محروم اوپه لسګونوزره کورنئ له شمال څخه په زور دځان اوکورنئ دغړو دنجات اوعزت دساتلوپه خاطر له شمالي سیمونه وتلوته مجبور شول ،زه هغه نه یادوم چي دطالب په نامه دې ظالمانوپه ټانکروکي ژوندون ځنې واخیست،د دښت لیلي اودښت شادیان مرغان اوځناوران ئي ددوي په غوښوماړه کړه، هغه یادوم چي ژوندي په خپل وطن کي له کوراوجایدادنه فرارته اړیستل شوه؛ که خیر وو یو وخت به دوي ته دا امکان برابر شي چي بیرته خپلو سیمواوخپلو ځمکو ته دراستانېدو امکان ورته پیداشي ،داسي څرګندېږ چي دهغوي غصب شوی جایدانونه اوځمکی به هم زورواکان دوي ته په رضا ورنکړی .
دایوملي ناورین و، په کابل کې دیوشمیر پر پاته شوجایدادوباندي شمالي ټلوالي خېټه واچول دمکررویانو اوکابل ښارکي زیات کورونه ئي پر خپل سره په غیر قانوني بڼه په خپل مینځ کي سره ووېشل اوجعلی قبالې ئي ورته جوړي کړې متاسفانه دهمدغوکورواوجایدادو خاوندان پدې اوه کاله نشي کولاي دقبالې په لرلو سره خپل ملکیت ثابت کړي . په هرات کي تورن اسماعیل چي څه کولای شول تر سره کړه ،هر څه ئې دځان اوخپلوانو تر منځ ووېشل ،شمالي سیمي دجمیعت دتنظیم اودوستم دملیشواونووتنظیمودیو شمیر قوماندانانو اومرکز ي افغا نستان په ایران کي دجوړسوو تنظیمواوډلوتر منځ ووېشل شو.پاته شوهغه قوم چي هر څه ئې ددې وطن ددفاع په لارکي دلاسه ورکړي اوس په خپل هیوادکي مهاجر دی ؟؟؟
ایادغه حالت به کوم قدرت اوقوت په پښتنو ومنلاي شي ؟؟؟؟
اوولي داسي فکر وشي چي دابه پښتنوته دمنلو وړوي ؟ څرنګه چي دالوې اوغیرتی قوم دی تر ډیره بریده صبر اوحوصله کوي .
ددې واحد وطن دښمنان غواړي دخائینانه مصلیحت اوموخو له مخې پښتانه دومره وزوروی تر څومجبورشي غبرګون ښکاره کړي اوددې وطن په دښمنانوپسي مخ راواړوي . خوهغه وخت به کار تر کار تیروي ،ځنګل چي اور واخلي وچ اولانده ټول یوځاي سره سوځي ،خداي مکړه چې پښتانه دغه کارته مجبورشي ،دافغانستان دښمنان همدا غواړي ،ځکه دوي پدې ښه پوهېدلې چي دوي په لړکیو قومونوکي هم کوم اعتبار اومخ نلري ،هغوي هم ددوي نه نفرت لري ،خو څوک نشته چي ددوي اواز تر نورو اونړیوالوپوري ورسوی ،ځکه نو ددغسې یوملي ناورین دجوړېدولپاره خپل ټول کورني اوبهرني امکانات پکار اچوی . که ددغو پلورل شووپه مقابل کي داملي غبرګون اوپاڅون پیل شوکرزئ صاحب تاسو اوستاسوټول دولتي چارواکي دي پدې ښه پوه وي چي بهرنیان به مو په خلاصون اونجات ستړي شي اوپدي ملک کښي به یوځل بیادوینو ویالې وبهېږي .
غواړم دادغم داستان په یوه لیکنه کښي دلیکل شوي دغوجملوچي دهمدغوکډوالوله جملې نه یوې غښتلي افغان مېرمنې اغلي کافیې پدې خبروچي په ژړا او ویرئې وویل : اولادونه ئې ناروغ اوخوراک نشته اوهره لحظه دخپل پښتني عزت د ازبکوداړه مارولخوا د تارتار کیدوله ډارسره مخامخ دي .اوټولو پښتنو ته ئې په پیغورورکړ،که پښتانه خپلې میندي اوخوندي دنوروڅخه نشي ساتلي اوهغه پدي جرم چه پښتانه دي دمیر منوسره بندي کیږي نوټول پښتانه بایدبنګړي واچوي، د شرم اوپیغورنه دي پورته نه ګوري پاي ته رسوم . وسلام


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de